مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۹ د غبرګولي ۱۸مه | د ۲۰۲۰ د جون اوومه | ۵۴۵مه ګڼه

# د کرونا ناورین او تازه پرېکړه؛

## حکومت په ځینو برخو کې بندیزونه تر دریو میاشتو نور هم وغځول



۳

### د آخوندي رژیم د وحشتونو دوام او د متفاوت غبرګون اړتیا

۲ مخ

### د کرونا په اړه د ختیځ فورم د مشر ډاکتر وضاح خنفر په زړه پورې وینا

۲ مخ

### د چین د شینجیانګ د اویغور په کورواکه سیمه کې رښتیا څه دي؟

۳ مخ

## امریکا: د خلیلزاد د وروستي سفر موخه د بین الافغاني مذاکراتو پیلېدل دي

د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد د افغان سولې په اړه د خپلو سفرونو د لړۍ په دوام یو ځل بیا د دریو هېوادونو پر سفر روان شوی دی.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت له خوا په یوه خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې خلیلزاد د سفر اصلي تمرکز به د افغان لورو ترمنځ د بین الافغاني مذاکراتو پیلېدو د عملي اقدماتو د توافق ترلاسه کولو په اړه وي. یاد وزارت ویلي چې خلیلزاد به قطر، پاکستان او افغانستان ته سفر کوي.

سرچینې زیاته کړې، هغه به له ښکېلو لورو سره د امریکا او طالبانو د سولې تړون او امریکا او افغان حکومت د ګډې اعلامیې د عملي کېدو په اړه هم خبرې وکړي چې په وینا یې په ځانګړي ډول د تاوتریخوالي کمېدو او بندیانو ازادولو په اړه.

زلمي خلیلزاد تر دې مخکې د تېرې مې میاشتې په ۱۸ مه هم قطر او افغانستان ته د افغان سولې په اړه سفر پیل کړی و. دا په داسې حال کې ده چې افغان حکومت له طالبانو سره د سولې خبرو پیلېدو لپاره عبدالله عبدالله د یو سیاسي توافق په پایله کې د ملي مصالحې عالي شورا مشر ټاکلی دی.

که څه هم تر دې مهاله له طالبانو سره د بین الافغاني خبرو پیلېدو مشخصه نېټه نه ده ټاکل شوې، خو عبدالله عبدالله تېره اونۍ وویل چې د افغان حکومت مذاکراتي ټیم هر وخت د خبرو پیلېدو لپاره چمتو دی.

### د ښځینې نړیوال سازمان: افغان حکومت دې په ایران کې د افغان کډوالو د سوځولو په تړاو جدي پلټنې وکړي



۵ مخ

پوهنتون
۴ مخ

### میهن د لوړو زده کړو موسسه

میهن د لوړو زده کړو موسسې خپلې رسمي چارې د هېواد د لوړو زده کړو وزارت په منظورۍ په ۱۳۹۰ لمریز کال کې یوازې په طبي برخه کې پیل کړې دي. دغه موسسه له هماغه پیله تر اوسه درې پوهنځي (ستوماتولوژي، فارمسي او طبي ټکنالوژي) لري.




### کرنې ریاست: روان کال به په پروان کې د زردالو حاصلات ۲۳.۸ زره متریک ټنو ته ورسېږي



د پروان د کرنې او مالدارۍ ریاست وایي، سږ کال به په دغه ولایت کې د زردالو د محصولاتو کچه نږدې ۲۳ زره او ۸۰۰ متریک ټنو ته ورسېږي.

د پروان د کرنې رییس عبدالوهاب خیرزاد وایي، دا وړاندوینه د پروان لایت د کرنې او مالدارۍ ریاست د کلنیو معلوماتو پر بنسټ تر سره کېږي. د نوموړي په خبره، دا مهال په دغه ولایت کې د زردالو دوه زره او ۲۹۸ هکټاره بڼونه موجود دي.

د دغه ولایت د کرنې ریاست وایي، چې په وروستیو کلونو کې په پروان کې د زردالو څلور زره او ۵۰۰ نوي بڼونه جوړ شوي، پنځه زره او ۸۱۰ بڼوال د بڼوالۍ په بېلابېلو برخو کې روزل شوي او پر څه باندې دوه زره بڼوالو د بڼوالۍ اړونده توکي هم وېشل شوي دي. د پروان ولایت د کرنې ریاست د معلوماتو له مخې، دمګړۍ په دغه ولایت کې پنځه زره او ۷۴۵ بزګران د زردالو په پالنه بوخت دي.

### وزارت تحصیلات عالی: پروندۀ جان باختن ایاز نیازی زود پی‌گیری شود



وزارت تحصیلات عالی و عالمان دین، خواهان نهایی‌شدن هرچه زودتر پروندۀ جان باختن دوکتور ایاز نیازی، خطیب مسجد وزیر محمد اکبرخان استند.

دوکتور ایاز نیازی شام‌گاۀ روز سه‌شنبۀ هفتۀ پیش در یک انفجار در داخل مسجد وزیر اکبر خان جان باخت. حکومت یک روز پس این رویداد اعلام کرد یک هیئت شش نفری این رویداد را بررسی خواهد کرد، اما از نتایج کار این هیئت هنوز خبری نیست.

عبدالتواب بالاکرزی، سرپرست وزارت تحصیلات عالی می‌گوید که حکومت نباید در بررسی این رویداد کوتاهی کند: «خواست ما خواست تمام ملت است که این قضیه باید بصورت جدی پیگیری شود و به مردم واضیح شود.»

ایاز نیازی در پوهنځی شرعیات پوهنتون کابل نیز استاد بود.

در همین حال، پسر بزرگ دوکتور محمد ایاز نیازی می‌گوید که راه پدرش را ادامه خواهد داد: «اگر این‌ها مجاهدین را ازبین می‌برند و یا یک مجاهد را ازبین می‌برد، آیا به نظر شما جهاد ازبین می‌رود؟ جهاد توقف خواهد کرد؟ نه خیر.»

پس از انفجار در مسجد وزیر محمد اکبر خان در کابل بخش‌هایی از حوزۀ دهم امنیتی کابل چهرۀ نظامی به خود گرفته‌است.

شماری از شهروندان کشور، نهادهای امنیتی را به کوتاهی در جلوگیری از رویدادهای هراس‌افگنانه متهم می‌کنند و می‌گویند که آنان پس از هر رویداد با بستن جاده مردم را به مشکل روبه‌رو می‌سازند.

Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملګری کړئ
Aksos
کابل دریيمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## دریــځ

# د آخوندي رژیم د وحشتونو دوام او د متفاوت غبرګون اړتیا

د ایراني آخوندي رژیم لـه خـوا پـه سـیند کې د ډوبـو شـوو افغانانـو غـم لا تـازه و، چـې ایراني وحـشي امنیتیانـو یـو بـل جنایت وکـړ او څـو افغانان یـې وسـوځول. لومړۍ هڅه کېدله چې دا پېښـه تحریـف شي، خـو وروسـته ویډیوګانې خپرې شـوې او آن ایـراني چاروا کـي مجبـور شـول چې ومنـي، د دوی ځواکونو پر موټر ډزې کـړي او بیـا موټـر اور اخیسـتی دی. دا احتمال ډېـر دی چې موټـر تـه بـه پـه قصدي ډول اور اچـول شـوی وي، ځکـه چې دومـره ډېـر اور که بلېـږي، نـو پـه موټـر کـې سپاره کسـان د ځان ژغورنـې هڅـه کوي او شـونې نه ده چې داسـې دې ټـول وسـوځیږي.
حکومـت بیـا د پـلاوي او پلټنـو خبـره کـوي، خـو اوس دا خـبرې داسـې دي، لکـه د خلکـو پـه زخمونـو چـې مالګـي شـیندي. د حکومت د سـلګونو او زرګونـو پـلاوو او پلټنـو پایلـه ورکـه ده. همـدا څـه وخـت مخکـې لسګونه افغانـان د اخونـدي رژیـم د وحشي ځواکونـو لـه خـوا سیند تـه وغورځـول شـول، چـې پـه ټولـه نړۍ کـې یـې غوغا جـوړه کړه. زمـوږ حکومت د پلټنو او پـلاوي خـبره وکـړه، خـو تـر ننـه څوک پـوه نه شـول چې پایله څه شـوه او آن ایراني چاروا کي لا هـم وایـي چـې د ایـران پـه خـاوره کـې هېڅ داسـې پېښـه نـه ده شـوې. دا دی ایراني ځواکونـه یـو ځـل بیـا وحشـت کـوي، خـو نـور پـر حکومـت د خلکـو بـاور ختـم دی او پلټنې او پـلاوي تـاکل ورته بـې مانا ښـکاري. د حکومت کړنـې رښـتیا هـم پـوره بـې مانـا دي، ځکه چې نـه ورسره عدالـت تامینېږي او نـه هم د دغه ډول وحشـتونو مخه نیـول کېږي. تـر دې دردوونکې خـو دا ده چـې آن ایـراني چاروا کـي زمـوږ حکومـت او اسـتازو ته هېڅ ارزښـت نـه ورکوي.
پـه ایـراني کـې د فرعـوني آخوندي رژیـم له خوا لـه دغـه جنایت وروسـته چې کله د افغانسـتان سـفیر یـزد ښـار تـه د ټپیانو لیـدو ته ورغلـی، نو آن ټپیـان پـه روغتـون کې هم تـر ځارنې لاندې دي او پـه لاسـونو کې یـې هتکـړۍ دي. ایراني چاروا کـو دومـره هم نه دي کړي چې د سـفیر د ورتـګ پـر مهـال دا هتکـړۍ د ټپیانو له لاسـونو څخـه لرې کـړي. دا زمـوږ د حکومـت پر وړاندې د ایـراني چاروا کـو د بـې احترامۍ او بې تفاوتۍ اوج دی، چـې لـه بـده مرغه لامل یـې هم خپله د دغـو چاروا کـو ناسـمې تګلارې او کمـزوری دریـځ دی.
له دې پېښـه وروسـته یـو ځـل بیا په افغانسـتان او بیـا د نـړۍ پـه ګـوټ ګـوټ کـې د عدالـت غـږ را پورتـه شـوی او لـه افغـان حکومـت څخـه غوښـتل کېـږي چـې دا چـاره جـدي وګڼـي، خـو ښـکاري چـې دا وحشـت بـه هـم د تېـر پـه شـان هېـر شي. لـه همـدې امله پکار ده چې د عدالـت لپـاره متفاوت ګامونه واخیسـتل شي. دا ځـل بایـد دا مسـأله پـه نړیوالـه کچـه مطرح شي. ټـول افغانـان او د بـشري حقونـو مدافعین بایـد پـه نړیوالـه کچـه د دغـه وحشـت د څېړنې او عدالـت لپـاره غـږ پورتـه کـړي.
پـه اوږدمهـال کـې لـه دغـه ډول وحشـتونو د خلاصـون لپـاره مـوږ یـووالي تـه اړتیـا لـرو. د افغانسـتان ګاونډیـان چـې لـه ځـان سره د اسلام وروسـتاړي هـم کاروي، زمـوږ سره د ټولو اسلامي او انسـاني ارزښـتونو خـلاف چلنـد کـوي. د دوی د ښـه ګاونډیتـوب او اسلام ټـول شـعارونه دروغ دي، نـو پکار ده چې مـوږ نـور پـه خپلـو منځونـو کـې سـتونزې ختمـې کـړو، د سـولې پروسـه بریالـۍ کـړو او خپـل هېـواد تـه بېرتـه یـو پیـاوړی دولت او خپلـو هېوادوالـو تـه عـزت او سرلـوړي را وګرځـوو.

# د چین د شینجیانګ د اویغور په کورواکه سیمه کې رښتیا څه دي؟



لیکواله: ډېوه؛
د چین میډیا ګروپ د پښتو څانګې خبریاله

په چین کې د شینجیانګ اویغور په کورواکه سیمه کې حالت په افغانستان کې د ډېرو خلکو د پاملرنې وړ دی؛ ځکه چې د ځینو لوېدیځو هېوادونو سیاستوالو او خبري رسنیو په شینجیانګ کې د چین د حکومت د اداري په چارو باندې تورونه لګوي او د وګړو د ذهنونو د مغشوشولو لپاره لا لګیا دي پروپاګند کوي او جعلي خبرونه جوړوي او خپروي چې هلځ په شینجیانګ کې خلک له بشري حقوقو څخه بې برخې شوي دي. دغه هېوادونه خپلې سیاسي ناوړه موخې او نیتونه لري او په شینجیانګ کې خپل پراخ لاس لټولو په هڅه کې دي او د شینجیانګ د مسئلې په پلمه د چین په سیاسي چارو کې لاسوهنه کوي او د چین د پرمختګ مخه ونیسي، خو په حقیقت کې په شینجیانګ کې حالت څه ډول دی؟ تاسو باید پر چا باور وکړی؟ یوه مشهوره اصطلاح ده وایي، په سترګو د حقیقت کتل تر ټولو ستر رښتیا دي.
ما په خپله څو څو ځلې شینجیانګ ته سفرونه کړي دي. د هغو ټولو او هر ځل سفر ژورې خاطرې مې په ذهن کې لا شته او ژوندۍ دي چې په ۲۰۰۹ز کال کې د اګست په میاشت کې مې هلته ترسره کړي دي. هغه مهال متاسفانه شینجیانګ د یو لړ ترهګریزو پېښو شاهد و، ګڼ شمېر بې ګنا وګړو ته پکې سخت زیانونه ورسېدل. له ډېرو خلکو سره د مخامخ خبرو په ترځ کې مې د دوی اندېښنې او هیلې ولیدلې او واورېدلې. خلکو سوله، امن، پرمختګ او سوکالي غوښتله، دا په هر ځای کې او هر وخت د عادي خلکو د زړه له کومې هیلې او غوښتنې دي، خو په تېرو څو کلونو کې ترهګریزې پېښې ناڅاپي پېښې شوې دي. د ترهګرۍ او تندلارۍ نظریې د زیاتو ځوانانو په منځ کې خپرې شوې او ځینې کسان د ترهګرو ډلو خوا تېر ایستل شوي، لمسول شوي او په دې توګه یې خپلې ناوړه ترهګریزې پېښې ترسره کړې او پر عادي خلکو یې بې رحمه او سخت بریدونه کړي دي. د ترهګرو دا غیر انساني بې رحمانه بریدونه نه یوازې د چین تر شینجیانګ پورې محدود پاتې شوي، بلکې دغسې ډلو غوښتي چې خپل دا ناوړه بې رحمه کړنو کړۍ تر نورو ښارونو او ځایونو پراخه کړي، په پلازمېنه بیجېنګ ښار کې او د یون نان ولایت مرکز کون مېنګ ښار کې یې ترهګریز بریدونه ترسره کړي چې په ترځ کې یې زیات شمېر بې ګناه خلکو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی.
زما په نظر، تاسو په افغانستان کې د ترهګرو خونړۍ پېښې او چاودنې لیدلې، حتماً مو دا هیله کړې چې ژر دا حالت ختم شي او ژر سوله او ارامي راشي، خلک د اقتصادي پرمختګ له ګټو برخمن شي، خپل ژوند جوړ او لا رنګین کړي، ماشومانو ته په ارامه فضا او چاپېریال کې په ښوونځیو کې د زده کړو فرصتونه برابر شي.... دغه ارام ژوند په ټوله نړۍ کې د ټولو عامو وګړو ګډه هیله ده، خو څنګه دا ارمان او هیله پوره او رښتیا کېدلی شي؟
په دې وروستیو دریو یا څلورو کلونو کې په شینجیانګ کې د نارامۍ حالات بدل شوي چې نه یوازې له شینجیانګ پرته په نورو هېوادونو او سیمو کې د زور زیاتي او ترهګرۍ ګواښونه ورسره له منځه وړل شوي، بلکې په شینجیانګ کې د ثبات او امن رامنځته کېدو سبب شوي. اوس په شینجیانګ کې د بېلابېلو کچو حکومتي ادارې د اقتصادي پرمختګ، له بېوزلو خلکو سره د مرستې کولو لپاره ډول ډول تدبیرونه نیولي او نیسي یې. په لرې بې وزلو سیمو کې د خلکو ژوند هم د پخوا په پرتله ښه والی موندلی او ډېر بدل شوی او نسبتاً د شینجیانګ ټولو سیمو له بېوزلۍ څخه ځانونه ایستلي او ژغورلي دي. دا رښتیا دي او د لمر په شان څرګند حقیقت دی.
په دغه بهیر کې ځینې دوستان پوښتنې کوي، ذهنونه یې مغشوش شوي، لوېدیځ هېوادونه خپلو سیاسي موخو ته د رسېدلو لپاره داسې شایعات او اوازې په لوی لاس جوړوي او خپروي، تر څو د ټولنې او نړۍ نظم د بدګومانیو په زهرو ولړي، د چین حکومت پر اویغوریانو ظلم کوي؟ مسلمانان د خپلو دیني چارو ترسره کولو ازادي او حق لري؟
د لوېدیځو هېوادونو د ځینو سیاستوالو او خبري رسنیو په وینا، په شینجیانګ کې تش په نامه د اویغوریانو زندانونه څه دي؟ د شینجیانګ د کاشغر، ختن، تورفان په شمول په ډېریو ځایونو کې مخکې د ښوونې او روزنې مسلکي مرکزونه موجود وو چې پکې د هغو کسانو مسلکي روزنه کېده چې کار و کسب یې نه درلود او وزګاره وو او په دې توګه تونددلارو ډلو ټپلو له دې فرصت څخه ګټه اخیستې وه او زموږ دغه ډول ځینې کسان یې تېر ایستلي وو او د تندلارۍ نظریو په زهرو باندې لړلي وو، د دغو مسلکي تخنیکو مرکزونو ایجاد د دې باعث شو، تر څو د دغو ورانکارو ډلو لاسونه لنډ او له منګولو او حلقې یې ډېری کسان نجات ومومي او وژغورل شي او د دغو کسانو لپاره د چینې ژبې، حقوقو، د کار او ژوند تخنیکونو په شمول، د نورو زده کړو ټولګي جوړ شول.
دغه مرکزونه د مسلکي او تخنیکي مهارتونو تر لاسه کولو ښوونځي وو. زده کوونکي په دغو ښوونځیو کې حلال او خپل دودیز خوراکونه خوري او په رنګارنګ هنري او سپورټي فعالیتونو کې ګډون کوي. دغو زده کوونکو په عادي وخت کې په ښوونځیو کې زده کړه او ژوند کاوه او د اونۍ په پای کې به د خپلو کورنیو غړو سره راغونډېدل، هر وخت یې کولی شول چې د خپلو کورنیو غړو سره ټلیفوني تماس ولري. دوی په خپله خوښه دغه ښوونه منلې او ځانونه یې نېکمرغه بلل چې د ترهګرو د ناوړه دسیسو له ښکار څخه ژغورل شوي دي. دوی په دغو ښوونځیو د یوې مودې زده کړو وروسته فارغ شوي، ټولنې ته وړاندې شوي او تر لاسه کړو زده کړو، مسلکونو او تخنیکونو پر مټ یې مساعد کارونه جوړ او موندلي دي.
اوس دغه ډول ښوونځي تړل شوي او له دغو ښوونځیو څخه فارغ شوي زده کوونکي اوس خپل ښه کارونه لري او د ارام ژوند روزګار درلودونکي دي. د بېلګې په توګه، په کاشغر کې ځوان اسمعیل اوس په یوه رستورانټ کې کار کوي، وایي، تندلارۍ نظریې څخه تر خلاصون وروسته د راحت احساس کوي، مخکې یې چې هېڅ کار نه درلود او نه یې کوم مسلک زده و، د ترهګرو په خبرو باندې غولېدلی و، خو اوس خپل کار او دنده لري، پیسې ګټي او د ارامۍ احساس لري. د تورفان یو بل ځوان ادریس عمر اوس په یوه محکمه کې کار کوي او په ټولنه کې یې د خلکو تر منځ ارزښت او درنښت پیدا کړی دی.
اسلام د سلامتیا، ارامۍ، ډاډ او سولې له معناوو ډک دین دی او په ژوند کې همدې او نورو ډېرو اصولو ته یې اهمیت ورکړی او همېشه یې د سولې غوښتنه کړې ده. ترهګري او تندلاري باید له هېڅ مذهب سره ونه تړل شي، دا د ځینو ډلو ټپلو شخصي خودغرضي ده چې متاسفانه د اسلام له پاک او سپېڅلي نوم سره یې تړي. په شینجیانګ کې ځینې ځوانان چې مخکې د تندلارۍ پوچو نظریو ښکار شوي وو، د مسلکي تخنیکونو د روزنې او ښوونې په مرکزونو کې له زده کړو وروسته د ترهګرۍ او تندلارۍ اصلیت، ماهیت او زیانونو باندې پوه شوي او پېژندلي یې دي او پر وخت یې له ترهګریزو خطرونو څخه ځانونه او خپل خپل خلک او ټولنه ژغورلې ده او د پوهنو او تخنیکونو پر مټ یې کار او ارام ژوند ترلاسه کړی دی.
په شینجیانګ کې ټولنه له ثبات او همغږۍ څخه برخمنه ده او د بېلابېلو قومونو اوسېدونکي په ګډه د اقتصادي پرمختګ لپاره هلې ځلې کوي. د عادي وګړو د ژوند، روغتیا او پرمختګ حقوق په ښه او هر اړخیزه توګه تأمینېږي. ویلی شو، که د بې مسلکه او وزګارو ځوانانو لپاره دغه ډول ښوونیز مرکزونه نه وای جوړ شوي، په شینجیانګ کې ثبات او د ژوند ارامي رامنځته کېدنه سخته چاره او خبره وه.
ښایي چې ځینې کسان پوښتنه وکړي چې په شینجیانګ کې د مسلمانانو مذهبي ازادي او حقوق تامین دي؟ په حقیقت کې هلته د مسلمانانو ټول عادي مذهبي فعالیتونه په ازاده توګه ترسره کېږي. نه یوازې په شینجیانګ کې، بلکې په ټول چین کې مسلمانان له بشپړې مذهبي ازادۍ څخه برخمن دي، په شینجیانګ کې د جوماتونو شمېر څه د پاسه شل زره دی، د اسلامي پوهانو، عالمانو، استادانو شمېر نهه ویشت زره تنه دی او د کورواکې سیمې، ښارونو او ولسوالیو په شمول په بېلابېلو کچو د اسلامي ټولنو شمېر ۱۰۳ دي. په شینجیانګ کې د اسلامي علومو عمومي پوهنځي، د کاشغر، ختن او ایلي په شمول اته پوهنځي فعال او ګڼ شمېر زده کوونکي لري او د مسلمانانو د مقدس سپېڅلي کتاب قران کریم د زده کړې، ترجمې او تفسیر په شمول لس مذهبي ښوونځي فعالیت لري. د دیني علومو د تر لاسه کولو لارې زیاتې دي، د هان، اویغور، تاجک، قرغېز په ژبو قران کریم ا و نور دیني کتابونه چاپ شوي دي.
له ۱۹۹۶ز کال څخه د چین حکومت هر کال د ځانګړو الوتکو په وسیله د مسلمانو د پنځم رکن او فریضې حج د ادا کولو لپاره چیني مسلمانان سعودي عربستان ته استول کېږي او هلته یې د خپلو مسلمانو وګړو لپاره هر ډول اسانتیاوې برابرې کړې دي. د درملنې، ژباړې، د لارښوونې ډلې یې ورته مؤظف کړې، په دې برخه کې مالي مرستې هم ورسره کوي.
په دې هیله چې دا لیکنه تاسو سره د شینجیانګ په اړه او په شینجیانګ کې د رښتیاوو او حقایقو د پېژندلو په برخه کې ګټوره تمامه شوې وي.

# د کرونا ویروس مرګوني څپه؛

## د دغې وبا له کبله په ټوله نړۍ کې د مړو شمېر له څلور سوو زرو واوښت

په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې په چټکۍ سره د ډېرېدو په حال کې دي.
د تازه شمېره له مخې، د دغه ویروس د مثبتو پېښو شمېر نږدې اوو میلیونو ته ورسېد. دغه راز یاد ویروس په ټوله نړۍ کې څلور سوه زره او ۱۱۹ کسان مړه کړي او ۳.۳۸ میلیونه ترې بېرته رغېدلي دي.
د تازه شمېرو پر اساس متحده ایالتونه لاهم د دغه ویروس د مړو او مثبتو پېښو له اړخه په ټوله نړۍ کې مخکښ دي. په دغه هېواد کې تر اوسه د کرونا ویروس نږدې دوه میلیونه مثبتې پېښې ثبت شوې دي او ۱۱۱ زره او ۷۱۶ امریکایان د دغه ویروس له کبله مړه شوي دي.
تر امریکا وروسته برازیل د ۶۵۱ زره او ۹۸۰ مثبتو پېښو له کبله دویم، روسیه د ۴۵۸ زره او ۶۸۹ مثبتو پېښو په درلودو سره درېیم، اسپانیا د ۲۸۸ زره او ۳۹۰ مثبتو پېښو له اړخه څلورم او برېټانیا د ۲۸۴ زره او ۸۶۸ پېښو له کبله پنځم، هغه هېوادونه دي چې د یاد ویروس تر ټولې ډېرې مثبتې پېښې پکې ثبت شوې دي.
دغه راز هند، ایټالیا، پیرو، جرمني او ایران په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هېوادونه دي چې د کرونا ویروس له کبله ډېر ځپل شوي دي. په ورته وخت کې د روغتیا نړیوال سازمان د ماسک د تړلو په برخه کې خپله مخکنۍ لارښوونه بدله کړې او اوس یې له خلکو غوښتي چې په هغو سیمو کې چې کرونا ویروس خپور شوی او خلک له یوه بل سره د فاصلې د مراعاتولو په برخه کې مشکل لري، ماسک دې وتړي.
یاد سازمان ویلي چې یو له هغو هڅو څخه چې خلک له کرونا ویروس څخه ساتلی شي، د ماسک تړل دي. دا په داسې حال کې ده چې په ډېرو هېوادو کې د ماسک تړل جبري شوي، په ځانګړې توګه په هغو سیمو کې چې بیروبار وي، لکه دوکانونه او عامه ترانسپورت.
د روغتیا نړیوال سازمان تر دې مخکې خلکو ته دا وړاندیز کړی و چې یوازې دې روغتیایي کارکوونکي، هغه کسان چې په کرونا ویروس اخته شوې دي او له هغو کسانو سره په ارتباط کې دي چې په کرونا ویروس اخته دي، ماسک تړي.
د روغتیا نړیوال سازمان ټینګار کوي چې د ماسک له تړلو سره باید خلک داسې فکر ونه کړي چې دوی بیخي خوندي شول او ماسک له یوه بله د فاصلې او لاس وینځلو ځای نه نیسي. د دغه سازمان په باور، د ماسک له تړلو سره تر ډېره د ماسک تر څښتن ، بل کس له ناروغۍ خوندي کېږي.
د نوې لارښوونې له مخې، د ماسک په اړه ویل شوي چې لږ تر لږه باید درې طبقې وي، داخلي طبقه پسته وي لکه مالوچ چې اوبه جذب کړي، منځۍ طبقه یې د فلتر په څېر وي او بهرنۍ طبقه یې له اوبو سره مقاومت ولري.

# د کرونا په اړه د ختیځ فورم د مشر ډاکټر وضاح خنفر په زړه پورې وینا

ژباړه: حمید محمدشاه

لومړۍ برخه:

دمنتدی الشرق/ د ختیځ فورم مشر ډاکټر وضاح خنفر د (کرونا په هره برخه کې واقعیت بدلوي؛ ایا موږ به د نوي نړۍ د زېږېدو شاهدان اوسو؟ ) تر سرلیک لاندې وینا درلوده، په لسګونو پوهانو پکې ونډه اخیستې وه، د ډاکټر وضاح خنفر په وینا کې د کرونا په اړه ډېرې نوې خبرې دلته لوستلی شی.

السلام علیکم:

همدا شېبه نړۍ له سخت او اغېزناک وضعیت سره مخ ده، دا له تاریخي اړخه د بنسټیز بدلون پیلامه ده، د نویو مخښلګو لپاره بنسټ برابروي او هغه چې وار له مخه په ټولنپوهنه، اقتصاد او سیاست کې شته، لا پسې پیاوړي کوي.

د وخت په تېرېدو به د کرونا ویروس روغتیایي اغېز له منځه ولاړ شي، د پخوانیو ناروغیو، طاعون او جګړو په څېر به بشریت له دې ګوابښ هم خلاص شي، خو هغه اغېز چې د دغه ویروس پر ضد له نړیوالو کړنو/ اجرااتو څخه رامنځته کېږي، تر ډېره به پاتې وي، د انسانانو په ژوند کې به یې اغېز تر ډېره څرګند وي.

نن ورځ چې نړۍ د اړیکو له اړخه په کوم وضعیت کې ده، پخوا یې ساری نه دی لیدل شوی. هېوادونه، انسانان یو پر بل ډېر تکیه دي، نړیوال اقتصاد، نړیوالې ټکنالوژۍ، چې ټوله نړۍ یې سره نښلولې، داسې یو وضعیت رامنځته کړی چې بشریت یې پخوا بېلګه نه وه لیدلې.

نړیوالتوب، له کومې ورځې چې پخوانی انسان له زرګونو کلونو او له کرنیز انقلاب را وروسته بشري ټولنه رامنځته کړې، نړۍ په دې حجم او ځواک داسې بې سارې پدیده نه ده لیدلې، خو کرونا نن د نړیوالتوب په زړه کې راڅرګنده شوې او بنسټونه یې زیبښې، تر پرونه بشریت داسې انګېرله چې دا به ډېره سخته او ګرانه وي چې دا بنسټونه دې ولړزیږي.

کرونا نړۍ ته د عاجزۍ/ خاکسارۍ درس ورکوي!

دوه کاله وړاندې د(ENLIGHTNMET NOW) په نوم کتاب خپور شو، ببل ګېټس یې خلکو ته د لوستلو سپارښتنه وکړه، لیکوال یې Steven Pinker ډېر خوشاله او خوش باوره و، نوموړي ویل: «بشریت نن ورځ په ډېر ښه وضعیت کې دی، لامل یې دا دی چې موږ توانېدلي یو چې پر ډېرو ناروغیو او لوږو لاس بري شوو، انسان د پوهې، اړیکو، سوکالۍ، پرمختللي انساني وضعیت هغې درجې ته رسیدلی دی، چې په تاریخ کې یې ساری نه دی لیدل شوی، کېدای شي دا به په ډېرو اړخونو کې سمه خبره وي، خو په مطلقه توګه سمه نه ده!

کرونا ویروس د نړۍ نا اټکله ناتواني، چې له دې وباء سره پر جګړه اخته ده، رابرسېره کړه، بشریت ګومان کاوه چې پر دې چاره برلاسی شوی دی، ځکه موږ ټولو څو لسیزې پخوا دا نمانځلې وه، چې انسان کامیاب شو، کولای شي چې ناروغیو، وبا او طاعون ته ماتې ورکړي او برید ورته وټاکي او له قاموس یې حذف کړي، خو د نړیوالې وبا فکر چې نن ورځ بشریت ورسره لاس او ګرېوان دی، د ببل ګېټس په څېر ځینو یې یوازې په اړه وړاندوینه کړې وه.

یو خوش باوره بهیر شته چې پر دې د باور تر کچې وياړي چې نن د علم او ټکنالوژۍ نړۍ ده، خو څرګنده شوه چې بیولوژي ببرته راوګرځېده چې زموږ کمزوري او عاجزي ثابته کړي او انسان چې الله پاک وایي، کمزوری پیدا شوی، نن ورځ د هغه ویروس پر وړاندې عاجز ولاړ دی، چې پر سترګو نه لیدل کېږي.

موږ د بشري کایناتو په توګه ژوند کوو، نه د خدایانو؛ پر دې نه پوهېږو چې تقدیر به زموږ پر حال څه کوي او زموږ د پایښت توازن به څنګه بدلوي، همدا د بشري عاجزۍ لپاره ستر درس دی، چې تر پرونه یې ګومان کاوه، چې اوس خو له ډېرو هغو ناخوالو خلاص دی، چې پخواني ورسره لاس او ګرېوان وو.

دلته اړینه ده چې دې وضعیت ته یو څه تم شو، د دې لپاره نه چې خپل ذات وځورو، بلکې د دې لپاره چې هره ستره پېښه د انسان لپاره ستر عبرت وي، حجم او ژورتیا یې د پېښې او ازماېښت د ارزښت په کچه وي.

د نن واقعیت ډېر مهم او اړین درس دی، که یې په اړه ژور فکر ونه کړو، نو موږ به له تمدني اړخه سرګردانه شو، چې هېڅ عاقل انسان ته نه ښایي چې په دغه ګرداب کې راګیر شي.

دلته باید دا آیت شریف را په زړه کړو، چې تل موږ ته ځان را په یادوي، موږ یې تلاوت کوو، خو د پېښېدو پر ښه یې نه پوهېږو، کله چې زموږ د سترګو پر وړاندې واقع شي، بیا پرې پوهېږو؛ لکه، د نن ورځې پېښه: ((حَتَّىٰ إِذَا أَخَذَتِ الْأَرْضُ زُخْرُفَهَا وَازَّيَّنَتْ وَظَنَّ أَهْلُهَا أَنَّهُمْ قَادِرُونَ عَلَيْهَا أَتَاهَا أَمْرُنَا لَيْلًا أَوْ نَهَارًا فَجَعَلْنَاهَا حَصِيدًا كَأَن لَّمْ تَغْنَ بِالْأَمْسِ كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ))[الزخرف:۲٤]

په تېرو کلونو کې انسان ګومان کاوه، چې پر ځمکه ځواکمن مخلوق دی او ځمکه په لاس کې نیولې ده. یووال هاراري په دې اړه وړاندوینه کړې وه: « نوی انسان ( هوموډیان) یو معبود دی، ځکه هغه د دې وړتیا درلوده چې د ضعف او کمزورتیا ټول هغه قواعد مات کړي، چې بشریت یې محاصره کړی او د پخوا په پرتله اوس دې ته ډېر نږدې دی، چې دایمي شي، خو لږ وخت نه و تېر شوی چې د غربي پوهانو لخوا رامنځته شوی باور له ( اسطوره) پرته بل څه نه و، د انسان کمزوري یو وجودي حقیقت دی چې د ده په خټه کې اغږل شوی دی.

څه چې پېښ شوي دي، ټول یې باید یو فرصت وګڼي چې ګټه ورڅخه پورته کړي؛ ځکه الله عزوجل مطلق شر نه دی پنځولې، له هرې سختۍ وروسته اساني وي. موږ باید خپله کمزوري ومنو او پر الله عزوجل تکیه وکړو او خپل ژوند ته د انساني مخلوق په توګه دوام ورکړو.

د هغو نړیوالو افتونو/ وبا شمېر محدود دی چې انسانیت یې ځپلی، عامه وبا هغه ده چې ګرده نړۍ یا د ځمکې د کرې ډېره برخه ونیسي او ګڼ مېشتو سیمو ته ورسېږي او د ژوند مختلف اړخونه اغېزمن کړي، دا یوازې روغتیایي اړخ نه وي، بلکې ټولنیز، اقتصادي، دیني او فکري هغه ورسره اغېزمنوي.

دا نړیواله وبا چې نن ورسره مخ یو، باید د هغو نورو نړیوالو وباوو په ترڅ کې حساب شي؛ ځکه نړۍ له ډېر پخوا راهیسې له وبا څخه ځورېږي.

انطوني وبا او د نوي حقیقت لټه!

لومړنۍ وبا چې پخوانیو تاریخپوهانو په خپلو کتابونو کې ثبت کړې ده، د ۱٦٥ ز کال وه چې په روم، ایټالیا او ډېری روماني هېوادونو کې رامنځته شوې وه، هغه مهال رومیانو پر سپین سمندر، شمالي افریقا، سویلي اروپا، هسپانیه او پر شام واکمني درلوده، په همدې کال دا ستره امپراتوري وبا او طاعون داسې وځپله، چې له پښو یې وغورځوله چې وروسته بیا پر انطوني وبا مشهوره شوه او تر ډېره وه.

همدې وبا غربي رومي دولت لومړی کمزوری او بیا رنګ کړ، ځکه جرماني قبایلو پرې بریدونه وکړل، وبا رومي لښکر کمزوری کړ او په شمال کې یې د جرماني قبایلو د جنګیالیو مخه ونه شوه نیولې، له کوم مقاومت پرته یې ورته سیمې پرېښودې او په شپږمه پېړۍ کې ټوله امپراتوري له منځه ولاړه.

ټولو وباوو او طاعون چې نړۍ ځپلې، دا د یو عصر پای او د بل نوي هغه پیل دی، د هر پخواني زوړ ځیز پای او د نوي زېږېدل دي، دا یې له وسه پوره نه وه چې سر راپورته کړي، نو اړتیا وه چې داسې یو څه پېښ شي، چې هر څه ورسره وخوځېږي چې دې ته لار هواره شي.

وبا/طاعون یوازې د رومي دولت نظامي بنسټ ونه نړاوه، بلکې رومي ادیان یې هم له منځه یوړل، همدا لامل دی چې د رومي دولت په ډېری برخو کې مسیحیت سر راپورته کړ. ان چې امپراتور قسطنطین د څلورمې میلادي پېړۍ ۳۱۵ -۳۳۳ په پیل کې مسیحي دین قبول کړ او د همدې دین بنسټونه یې پیاوړي کړل. له دې وروسته مسیحي دین د امپراتور رسمي دین شو.

روماني ادیان چې د خدایانو پر ډېر شمېر باوري وو، پر دې نه وو توانېدلي چې هغو سترو پوښتنو ته ځوابونه پیدا کړي چې خلکو له سترې غمیزې وروسته رابرسېره کړې وې، خپل ځوابونه یې په مسیحي دین کې وموندل.

جستنیان طاعون یوازې بشر له منځه نه وړي!

دویم طاعون، چې مسلمانانو ته له تاریخي اړخه ارزښت لري، هغه جستنیان طاعون دی. جستنیان د ختیځ رومي دولت له مخورو امپراتورانو څخه و چې هغه مهال ورته ( بیزنطینین) ویل، دا مهم مشر و چې د بیزنطیني ځواک بنسټونه پر پښو ودرول او له پارسي امپراتورۍ سره یې جګړې کړې دي.

د نړۍ په بیا جوړونه کې یې رول مهم و. زیات شمېر لاسته راوړنې یې هم درلودې؛ لکه، د جستنیان مشهور قانون چې اوس نړیوال کلتور دی او په ډېری اروپایي قوانینو کې لوستل کیږي؛ رومي دولت، چې د جرماني قبایلو په لاس رنګ شو، جستنیان هڅه وکړه چې ختیځ او لویدیځ روماني دولت سره یو ځای کړي، خو تقدیر بل څه غوښتل.

له ٥٤١ – ٥٤٣ ز پورې په بیزنطیني دولت کې وژونکې وبا خپره شوه، له مصر پیل شوه او سر یې قسطنطنیې، انادول او د شام هېوادونو ته ورسېد او ساساني دولت یې هم را لاندې کړ، وروسته دا وبا د جستنیان پر وبا مشهوره شوه.

دا طاعون/ وبا د محمد صلی الله علیه وسلم له پیدایښت دېرش کاله پخوا راڅرګنده شوه او بیزنطیني او پارسي امپراتورۍ یې ډېرې کمزورې کړې، یوازې د قسطنطینې نیمایي استوګنو خپل ژوند له لاسه ورکړ، له مصر سره سوداګري بنده شوه؛ ځکه دوی داسې انګېرله چې دا وبا له مصره ورغلې ده.

معاصر څېړونکي وایي، چې وبا په مصر کې نه ده راپیدا شوې، بلکې د سوداګریزو کښتیو په وسیله له منځنۍ اسیا د هغو موږکانو له لارې ور انتقال شوې وه چې انسان ته د ورېږې له لارې ور رسېږي.

وروسته بیا دا وبا د اروپا مختلفو بندرونو ته ورسېده، ډېر انسانان یې ووژل، هغه مهال د انسانانو شمېر دوو سوو میلیونو ته رسېدو، چې دېطرو یې خپل ژوند له لاسه ورکړ، پوځ زیانمن شو، د دولت عواید ببخي کم شول، خپل ځان یې نه شو ساتلی، جستنیان اړ شو، چې مالیه پورته کړي، له دې هر څه امپراتوري ژوندۍ وه، له پارس هغې سره یې جګړې هم وکړې، خو همدا وبا یو له هغو لاملونو وه، چې بیزنطیني او پارسي دولتونه یې دومره کمزوري کړل، چې شپږ لسیزې وروسته دواړه امپراتورۍ د مسلمانانو په لاسونو له منځه ولاړې.

وبا ناڅاپي نه ورکېږي، د څو کلونو لپاره غلې شي، وروسته بیا سر راپورته کړي او دومره قوي شي، چې د انسانانو پر مرګ تمامه شي.

د جستنیان وبا په تداوم په ٦۳۰ ز کې د فلسطین په عمواس سیمه کې د عمواس په نوم بله وبا راڅرګنده شوه، لامل یې همدا بکتریا وه، یو ځل بیا خپره شوه او ډېری انسانان یې ووژل. ویل کیږي، چې دا تر ټولو سخته وبا وه، د نړۍ هرې برخې ته ورسېده، چې د نړۍ په تاریخ کې تر ټولو زیاته مشهوره شوه او له ۸۰۰ ز کال را وروسته د (تور مرګ) په نوم مشهوره شوې ده.

**دوام لري...**

# د کرونا ناورین او تازه پرېکړه؛

## حکومت په ځینو برخو کې بندیزونه تر دریو میاشتو نور هم وغځول



د کرونا له چټکې پراختیا سره هممهاله حکومت پرېکړه کړې چې په ځینو مواردو کې به بندیزونه درې میاشتې غځوي.

افغان حکومت وایي، دوی هڅه کوي چې د کرنتین په اوږدولو او د بندیزونو په غځولو سره د کرونا ویروس پراختیا کابو کړي او د ناورین مخه ونیسي. د تازه پرېکړې له مخې، د لوړو زده کړو خصوصي او دولتي پوهنتونه او همدا راز ښوونځي به تر دریو نورو میاشتو پورې هم تړلي وي. دا بندیزونه مشروط ښودل شوي. حکومت وایي، که د کرونا پراختیا په راتلونکو اونیو یا میاشت کې کابو کېږي، نو بندیزونه به هم نرمېږي.

د تېر کال له کب میاشتې راهیسې کرونا ویروس په هېواد کې د چټکې پراختیا په حال کې دی، خو افغان حکومت نیمګړې او کمزورې کرنتین بیا بیا اوږد کړی دی. سره له دې چې حکومت د کرونا ویروس د پراختیا یوازینۍ لار کرنتین او د خلکو پر تګ راتګ بندیز بولي، خو حکومت د دغې چارې په عملي کولو کې ناکام دی. تازه حکومت د راتلونکو دریو میاشتو لپاره د کاروبار، دولتي ادارو، کرنتین او تګ راتګ په اړه خپله طرحه وړاندې کړې ده. د طرحې له مخې، ځینې کاروبارونه په تدریجي توګه او د خلکو اړتیا ته په کتو پرانیستل کېږي، خو ځینې ادارې او کاروبارونه به بیا د کرونا وضعیت ته په کتو یا تړلي پاتې کېږي او یا به یې حکومت وروسته د پرانیستلو په اړه پرېکړه کوي.

د حکومت په دې طرحه کې راغلي چې د عامې روغتیا وزارت باید د خپلو ازمویښتونو او لابراتوارونو ظرفیت لوړ کړي، څو په دې توګه اخته کسان له نورو بېل کړل شي او په کرونا اخته کسان ژر تشخیص شي. همدا راز پوهنتونونه، ښوونځي، مدرسې او د تجمعاتو نور ځایونه به تر راتلونکو دریو میاشتو پورې تړلي وي. حکومت له لسو د ډېرو کسانو پر یو ځای کېدو بندیز لګولی او همدا راز ټینګار کوي چې خلک دې په ښارونو کې له بسونو او د تګ راتګ له نورو لویو وسایطو ګټه نه اخلي. له کورونو د ډېر عمر لرونکو کسانو پر وتلو هم بندیز لګول شوی دی.

حکومت په دې طرحه کې دا هم منلې چې دوی د دغه ویروس د کنټرول توان نه لري؛ ځکه مثبتې پېښې په خورا چټکۍ په ډېرېدو دي او عام خلک ورسره همکاري نه کوي. سرچینې له ټولو وګړو غوښتې چې د عامې روغتیا وزارت، د روغتیا نړیوال سازمان او نورو اړوندو ادارو سپارښتنو ته جدي پاملرنه وکړي، له ګڼې ګوڼې لرې اوسي، ماسک واغوندي او لاسونه بیا بیا پرېمنځي.

په دې طرحه کې پر دې هم خبرې شوې چې باید روغتیایي خدمات پراخ شي. په طرحه کې له اړوندو چارواکو غوښتل شوي چې د روغتیایي خدماتو او همدا راز له کرونا سره د مبارزې لپاره د ځانګړو کلینیکونو امکانات باید ډېر شي. دوی په دې برخه کې د یوې کمېټې د جوړولو غوښتنه کړې چې د طبي تجهیزاتو او خدماتو د ژر ارایه کولو په برخه کې به همکاري کوي.

په طرحه کې له خصوصي ادارو هم غوښتنه شوې چې د خپلو کارکوونکو د چارو په تنظیم کې پوره هڅه وکړي او په پوره مسوولیت دوی ته طبي او نور تجهیزات برابر کړي. د طرحې له مخې، د خصوصي ادارو مسوولین مکلف دي چې د کرونا د مخنیوي ټول اړوند توکي ولري او د کارکوونکو ژوند یې خوندي کړي.


له دې سره جوخت د عامې روغتیا وزارت هم وایي چې مثبتې پېښې مخ په ډېرېدو دي. د بي بي سي د یوه راپور له مخې، افغان چارواکو منلې چې مثبتې پېښې ډېرې دي، خو دوی یوازې د ثبت شوو پېښو شمېر اعلانوي. د سرچینې په خبره، ښایي یوازې په کابل کې یو میلیون کسان په کرونا ویروس اخته شوي وي. عامې روغتیا وزارت وایي چې تېره ورځ یې په هېواد کې په ۱۱ ولایتونو کې ۷٦۰ مشکوکې پېښې ازمویل شوې چې له دې ډلې ۵۸۲ یې مثبتې وې. په دې موده کې اتلس کسه د کرونا له امله مړه شوي او ٦۸ نور ببرته روغ شوي دي.

## د کتاب خبرې

# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

لیکوال: رابرټ کیوساکي
ژباړن: علي‌الله متوکل

### دویمه برخه
### یو کاروبار او اته شتمني جوړوونکې دارايي
### دویم څپرکی




### اووم څپرکی
### ۷. زما د تجارت کلونه

دا موضوع باید ښه روښانه کړم. کله هم د بازارموندنې په کومه شبکه کې نه یم پاتې شوی. نه یې خپروونکی یم او نه د بازارموندنې د کومې شبکې څښتن. نه په کوم شرکت کې مالي ګټه لرم او نه د کوم ځانګړي شرکت بازار موندنه کوم. خو په کلو کلو د دې تجارت اتل او مدافع پاتې شوی یم او په دې څپرکي کې به یې سبب درته روښانه کړم.
لومړی ځل مې په (۱۹۷۵م) کې یوه ملګري یوې غونډې ته وروبللم چې موضوع یې د نوي تجارت فرصتونه وه. د کاروبار او پانګونې په اړه خبرېنې مې عادت وې، نو د ده بلنه مې ومنله. خو یوه کاروباري ناسته د دفتر پر ځای په کور کې جوړېده، دې خبرې لږ حیران کړم.
پرلپسې درې ساعته یې پر دې خبرې وکړې چې خپل کاروبار تر دندې ښه دی. له ډېرو خبرو سره یې موافق هم وم. په وروستیو کې مې ملګري زما نظر وپوښت. و مې ویل:((ډېره په زړه پورې وه؛ خو ما ته نه.))
زه هغه وخت د یوه تجارت په جوړولو ډېر بوخت وم. ولې مې باید له بل چا سره تجارت جوړ کړی وای؟ د شبکه یي بازارموندنې په مانا نه پوهېدم؛ خو له ځانه سره مې فکر کاوه چې پرې پوهېږم. او ډاډه وم چې زما په درد نه خوري.
د شبکه یي بازارموندنې له لومړۍ ناستې مې زیات وخت نه کېده چې هغه ورزشي کاروبار چې له دوو نورو ملګرو سره مې پیل کړی و، په چټکۍ پرمختګ وکړ. دوه کلن سخت کار ښه پایله ورکړه. بریا، شهرت او پیسو ما او زما دوو ملګرو ته مخه کړه. لوړه مو کړې وه چې تر دېرش کلنۍ مخکې به میلیونران کېږو. سخت کار او زیاتې قربانۍ خپلې موخې ته ورسولو. د نولسمې پېړۍ اوومه لسېزه وه، یو میلیون ډالر خورا لوی شی وو. زموږ د کمپنۍ او تولیداتو په اړه Gentlemen's Quarterly او Surfer, Runner's World مجلو لیکنې کولې. زموږ ورزشي لباسونه په نړۍ کې وپېژندل شول او زموږ جامې په ټوله نړۍ کې وغوښتل شوې. دا یوه بشپړه بریا وه.
ما کله هم د شبکه یي بازارموندنې په اړه فکر ونه کړ، یا لږ تر لږه یوه لسېزه یې په کیسه کې نه وم.
ذهن خلاصېدل
کلونه وروسته مې ورو ورو ذهن خلاص شو او پوه شوم. ښه بریالي کاروبار مو ماتې خوړلې وه. دا یوه ډېره بې خونده خو مثبته تجربه وه. ځکه سترګې مې خلاصې شوې چې خپل شاوخوا ته وګورم او زیاتې پوښتنې وکړم. هغه څه ته مې پام شو چې شتمن پلار مې راښودلي وو او یو مالي لید مې وموند. زیات وخت نه و تېر شوی چې یو بریالی کاروبار مې پیل کړ. تر هغه وروسته بل او بیا بل. او تر دې وروسته مې هېڅ کاروبار نه دی ناکام شوی.
متوجه شوم چې شخصي بریا د خوښۍ سبب کېږي؛ خو له نورو خلکو سره بریا ته په رسېدو کې مرسته کول سړی تر دې هم زیات خوشالوي.
په هغو کلونو کې دې نظریې ته خورا ښه متوجه شوی وم چې یوازې باید ځان شتمن نشي، بلکې له نورو سره هم باید په شتمنېدو کې مرسته وشي. پام مې شو چې شخصي بریا د خوښۍ سبب کېږي؛ خو له نورو سره بریا ته په رسېدو کې مرسته کول سړی تر دې هم زیات خوشالوي.
پنځلس کاله مې له نږدې کسانو د شبکه یي بازارموندنې په اړه منفي خبرې واورېدې. بلاخره مې تصمیم ونیو چې خپله یې وڅېړم.
د شلمې پېړۍ په وروستۍ لسیزه کې مې یوه ورځ له ملګري «بېل» سره ناست وم. هغه میلیونونه پیسې ګټلې وې او اوس تقاعد و. په خبرو کې ورته متوجه شوم چې په شبکه یي بازار موندنه کې یې کار کړی دی.
بېل ډېر تېز او هوښیار دی. د یو میلیارد بودجې لرونکې پروژې له تازه بشپړېدو یې هم خبر وم. ترې ومې پوښتل چې ولې په شبکه یي بازارموندنه کار کوې؟
ده وویل:((کلونه کېږي چې خلک ترې غواړي چې د ملکیتونو په کاروبار کې پانګونه ورسره وکړي. دوی غوښتل پوه شي چې ایا له ما سره پانګونه کولای شي؟ خو دوی نشوی کولای، ځکه د پانګونې لپاره یې پنځوس زره یا سل زره ډالر نه درلودل. په حقیقت کې دوی هېڅ پیسې نه لرلې. د ځینو دیوالیه‌توب ته بیخي دوې میاشتې پاتې وې. په داسې معاملو پسې ګرځېدل چې پانګې ته اړتیا ونه لري، یوه ناسمه پانګونه ده. ما له دوی سره مرسته نشوی کولای؛ خو د شبکه یي بازارموندنې په مټ مې مرسته ورسره کولی شوای چې د نورو کارونو لپاره لازمه پانګه پیدا کړي. څومره چې د خلکو شمېر زیاتیږي، هومره پانګوال زیاتیږي.))
**دوام لري...**

# میهن د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

حمیدالله حمیدي




میهن د لوړو زده کړو موسسې خپلې رسمي چارې د هېواد د لوړو زده کړو وزارت په منظورۍ په ۱۳۹۰ لمریز کال کې یوازې په طبي برخه کې پیل کړې دي. دغه موسسه له هماغه پیله تر اوسه درې پوهنځي (ستوماتولوژي، فارمسي او طبي ټکنالوژي) لري.
د میهن د لوړو زده کړو موسسې د محصلینو او استادانو د چارو مرستیال سهراب عبدي وايي، په خپلو درې ګونو پوهنځیو کې ډېر محصلین لري چې نارینه او ښځینه دواړه پکې شامل دي.
عبدي وايي، له ۱۳۹۰ لمریز کاله تر دې دمه یې له فارمسي پوهنځي څخه اته دورې، له طبي ټکنالوژۍ څخه پنځه دورې او له ستوماتولوژي پوهنځي یې نهه دورې محصلین د لېسانس په کچه ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي دي. نوموړی وايي، تر اوسه یوازې په طبي برخه کې چې پورته ذکر شوي پوهنځي لري، فعالیت کوي او د کومې بلې برخې په اړه یې فکر نه دی کړی.
دا سمه ده چې موږ هم ښځینه او هم نارینه دواړو مسلکیانو ته اړتیا لرو، خو په طبي برخه کې بیا تر نورو ډېره ورته اړتیا ده. د عبدي په خبره، دوی اوس په خپلو فعالو پوهنځیو کې لږ تر لږه ۱۲۵۰ محصلین لري، چې په دې برخه کې ۳۵ سلنه یې ښځینه محصلینې دي. د نوموړي په خبره، د فارغ شویو محصلینو ۴۰ سلنه برخه یې ښځینه جوړوي چې اوسمهال د هېواد په بېلابېلو روغتونونو کې پر کار بوخت دي او د هېوادوالو خدمت کوي.
د میهن د لوړو زده کړو موسسې د محصلینو د چارو مرستیال وايي، له طبي ټکنالوژۍ او فارمسۍ پوهنځي څخه یې محصلین د لېسانس په کچه فارغېږي، خو دا چې د ستوماتولوژي په پوهنځي کې د زده کړو موده شپږ کاله ده، نو هغه کسان چې له دغه پوهنځي څخه فارغېږي، د ماسټرۍ په کچه تحصیلي اسناد ورکول کېږي. دا چې په لوړو زده کړو وزارت کې د خصوصي پوهنتونونو له قانون سره سم یو طبي پوهنځی په کال کې له سلو ډېر محصلین نه شي جذبولی، نو په دې برخه کې یو محدودیت شته. ښاغلی عبدي وايي، دا چې په خصوصي پوهنتونونو کې د طبي پوهنځیو د زده کړو لګښت یو څه زیات دی، نو هغه کسان چې اقتصادي وضعیت یې ښه نه وي، نه شي کولی دغه برخه مخ ته یوسي، نو دوی په کال کې د ۲۵۰ په شاوخوا کې نوي محصلین جذبوي.
میهن د لوړو زده کړو موسسه د خپلو محصلینو لپاره هر کال ځانګړی تخفیف لري. د عبدي په خبره، د ۱۳۹۸ لمریز کال لپاره په ستوماتولوژي او فارمسي پوهنځیو کې ۲۰ سلنه تخفیف او په طبي ټکنالوژۍ کې ۴۰ سلنه تخفیف لري. د یادولو وړ ده چې میهن د لوړو زده کړو موسسه د قابلګۍ پوهنځی هم لري، چې یوازې دوه کاله پکې زده کړې کېږي. دی وايي، په قابلګۍ برخه کې هم د خپلو محصلینو لپاره ۴۰ سلنه تخفیف لري، چې یوازې ښځینه محصلینې پکې زده کړې کوي.
دا چې په خصوصي پوهنتونونو کې تر ډېره هغه کسان زده کړې کوي، چې د زده کړو تر څنګ خپل شخصي کاروبار لري او یا هم په نورو ادارو کې پر کار بوخت وي، نو میهن د لوړو زده کړو موسسې همدې ټکي ته په پام سره د ورځې په دوو ټایمونو کې د خپلو محصلینو لپاره د زده کړو زمینه برابره کړې ده. عبدي وايي، د سهار له اتو تر لسو او د مازدیګر له څلور نیمو تر اوو بجو پورې محصلین د زده کړو لپاره ور غواړي. دی وايي، په همدې موده کې محصلینو ته نظري او عملي زده کړې ورکول کېږي.
دا چې په میهن د لوړو زده کړو موسسه کې یوازې په طبي برخه کې زده کړې کېږي، نو استادان یې تر ډېره ډاکټران دي او لوړې زده کړې لري. د عبدي په خبره، په درې واړو پوهنځیو کې یې پر کار پوه او مسلکي استادان پر دندو ګومارلي او د تدریس چارې مخ ته وړي چې په دواړو برخو عملي او نظري ډول محصلینو ته تدریس کوي. د دې ترڅنګ د ثقافت د تدریس په برخه کې یې هغه کسان پر دندو ګمارلي، چې له شرعیاتو پوهنځي فارغ وي او د تدریس په برخه کې کافي تجربه ولري. دا چې څو کسان د میهن په لوړو زده کړو موسسه کې پر تدریس بوخت دي، په اړه یې عبدي څه ونه ویل.
که څه هم په طبي برخه کې د ډېرو کتابونو پیدا کول یو څه ستونزمن دي، خو بیا هم میهن د لوړو زده کړو موسسې هڅه کړې چې د خپلو محصلینو لپاره د اړتیا وړ کتابونه په خپل کتابتون کې ولري. د عبدي په خبره، د مسلک اړوند لږ تر لږه درې زره کتابونه یې په هارډ او لږ تر لږه پنځه سوه نور یې په سافټ ډول د خپلو محصلینو په واک کې ورکړي، څو محصلین او استادان د اړتیا پر مهال ګټه ترې واخلي. دی وايي، هڅه کوي هغه کتابونه چې په ۲۰۱۹ ز کال کې چاپ شوي، دوی به یې له ایران او هند هېوادونو څخه را وغواړي او د خپلو محصلینو په واک کې به یې ورکړي.
دغه موسسه تر اوسه پورې په کور دننه له لوړو زده کړو وزارت پرته له کوم پوهنتون سره علمي اړیکې یا هوکړې نه لري، خو اوس اوس یې هڅې پیل کړې چې په ترکیه کې له یوه خصوصي پوهنتون سره د علمي اړیکو تر څنګ، یوه هوکړه هم لاسلیک کړي، څو هغه محصلین چې دلته لوړې نمرې اخلي، د لوړو زده کړو او یا هم نورو وړتیاوو لوړولو لپاره یې دغه هېواد ته ولېږي او ترڅنګ یې د دغه پوهنتون له تجربو څخه ګټه واخلي.
لوړو زده کړو وزارت لومړی خصوصي پوهنتونونو او بیا وروسته د لوړو زده کړو خصوصي موسسو څخه فارغ شویو محصلینو ته د ډیپلوم په کچه تحصیلي اسناد ورکوي. عبدي وايي، دوی تر اوسه پورې خپلو فارغ شویو محصلینو ته یوه تصدیق پاڼه چې لوړو زده کړو وزارت یې تاییدوي، ورکوي تر څو د دندې په پیدا کولو او نورو برخو کې ترې ګټه واخلي؛ ځکه دغه تصدیق پاڼه په ټولو ادارو کې د باور وړ ده او د ډیپلوم ارزښت لري. دی وايي، تر اوسه پورې یې لږ تر لږه ۶۰۰ فارغ شویو محصلینو ته دغه تصدیق پاڼې ورکړې او کله چې د لوړو زده کړو خصوصي موسسو ته د ډیپلومونو د وېش وار رسېږي، هغه وخت به بیا لومړی فارغ او بیا وروسته فارغېدونکو محصلینو ته د لوړو زده کړو وزارت لخوا تایید شوي ډیپلومونه ورکوي.
د دې موسسې اداره د خپل بنسټ لپاره یو پنځه کلن ستراتیژیک پلان لري، چې اوسمهال یې لوړو زده کړو وزارت ته د تاییدۍ لپاره استولی دی. په دغه ستراتیژیک پلان کې د دایمي استادانو ګومارل، د کتابتون پراختیا، د لابراتوارونو جوړول، د غاښونو د کلینیک جوړول او په ټوله کې د پولي کلینیک جوړول چې د شته پوهنځیو ټولې برخې به ولري، شامل دي.
د میهن د لوړو زده کړو موسسه له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې په لومړي سر کې باید له خصوصي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو له موسسو څخه ملاتړ وکړي او که ملاتړ ونه کړي او هرڅه په اوسني ډول روان وي، ډېر ژر به ډېری پوهنتونونه او یا موسسې وتړل شي او که ونه هم تړل شي، د کیفیت له اړخه به خورا کمزوري شي.
د دې ترڅنګ فارغ شویو محصلینو ته د ډیپلومونو وېشل یوه اساسي ستونزه ده. عبدي وايي، که څه هم په هېواد کې فعالې ټولې اداري پر دې ښې پوهېږي چې تر اوسه پورې د خصوصي پوهنتونونو فارغ شویو محصلینو ته ډیپلومونه نه دي وېشل شوي او ورکړل شوي تصدیق پاڼې چې لوړو زده کړو وزارت تایید کړې دي، د ډیپلوم ارزښت لري، خو بیا هم د دوی لپاره په دنده اخیستو کې ستونزې جوړوي. دی له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې هر څومره ژر کېدای شي د خصوصي پوهنتونونو د فارغانو لپاره هم ډیپلومونه ورکړي، څو محصلین له خپل دې اساسي حق څخه برخمن شي او د دندې په پیدا کولو کې له ستونزو سره مخ نه شي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۲۵ |
| € | ۸۵ |
| Rp. | ٤٧٣ |
| ₹ | ۹۷۰ |
| ¥ | ۱۰,۷۰ |
| £ | ۹٤,۵۰ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیايي مرکز
166

# د سریلانکا هېر شوي افغانان

لیکوال: تون ایم. ضمیر کریم
ژباړن: زاهدخلیلي
سرچینه: کولمبو ټیلیګراف

د نولسمې پېړۍ په وروستیو او د شلمې پېړۍ په لومړیو کې سیلون (سریلانکا) ته له هند او برېټانوي کالونیو څخه ګڼ شمېر کډوال راغلل او په دغه ټاپو کې مېشت شول. په دوی کې د مدراس او مالابار کاریګر هم شامل وو. دوی په لوړو سیمو کې د چای، کافي او ربړو د نیالولو (کېنولو) لپاره راوستل شوي وو. له سویلي هند څخه هم خلک سریلانکا ته راغلي وو. په دوی کې یوه کوچنۍ ایتنیکي ډله افغانان وو. افغانان سریلانکا ته د برېټانویانو له لوري د اس ساتونکو په توګه راوستل شوي وو چې د شلمې پېړۍ په راتلو سره یې ډېر کسان سوداګر شول. زیاتره افغانان پښتانه وو چې د افغانستان، خیبرپښتونخوا او بلوچستان اوسېدونکي وو او په سریلانکا کې په بهایس Bhais سره پېژندل کېدل.

د ۱۸۸۱ ز کال د سرشمېرنې له مخې، د افغانانو شمېر څه باندې زر تنه و. په ۱۹۰۱ ز کال کې یې شمېر راکم او ۲۷۰ تنه شو. په ۱۹۱۱ ز کال کې ٤٦٦، په ۱۹۲۱ ز کال کې ۳۰٤ او په ۱۹٤٦ ز کال کې یې شمېر ۵۵۱ تنو ته لوړ شو. له دې وروسته بیا د سریلانکا په سرشمېرنه کې د افغانانو یادونه نه شته. د ۱۹۱۸ ز کال د پور ورکولو، تابعیت او نورو لایحو له امله په سریلانکا کې د افغانانو شتون ورک شو، خو بیا هم ګڼې کورنۍ شته چې په سریلانکا کې د پښتنو د شجرې لرلو ادعا کوي.

هغه افغانان چې په سریلانکا کې اوسېدل، نو د ,Afghan karzyo, Pattani Kabul Manishen په نومونو یادېدل، خو تر ټولو مشهور یې بهایي وو چې نه یوازې د افغانانو مختاړی Affix نوم و، بلکې د ثبتولو رسمي لقب یې هم و. زما (ضمیر کریم) پلارنی غور نیکه افغان (پښتون) و او غني کریم خان بهایي نومېده. هغه د کوچ چلوونکی و او په سریلانکا کې یې دایمي استوګنه غوره کړې وه. هغه له یوې سریلانکایي سره واده کړی و. په افغانانو کې د اپریدیانو، غلجیانو، یوسفزیو، احمدزیو، کاکړو او نورو قبیلو خلک وو او د خان نوم یې درلود. برېټانویانو به د بهایي Baay په نوم ثبتول. هدف دا و چې د افغانانو او نورو لړه کیو تر منځ توپیر وشي. جالبه دا وه چې د سریلانکا مالايي اوسېدونکو به افغانان Bangali Orang (د بنګال سړي) بلل. د دې لامل دا و چې پښتنو به بنګال ته، په ځانګړې ډول کلکتې ته، ډېر سوداګریز تګ راتګ کاوه. کلکته هغه وخت د برېټانوي هند مرکز و. په کلکته کې اوس هم ډېر شمېر پښتانه اوسېږي چې کابلي والا (د کابل سړي) ورته وایي. د رابندرانات ټاګور کتاب کابلي والا په یوه پښتون سوداګر راڅرخي. دغه کتاب په ۱۸۹۲ ز کال کې لیکل شوی دی.

پښتانه‌جنګیالي

د پنځلسمې پېړۍ په وروستیو کې د کابل د ټوکرو (رختو) پښتنو سوداګرو یوې کوچنۍ بېړۍ د Batticaloa په بندر کې د توپان له امله پناه واخیسته. هغه مهال په ختیځه څنډه کې د تامل کب نیوونکو قبیلو ژوند کوه. ډېرو قبیلو یو بل سره جګړې وکړې. د Mukkuvars قبیلې له پښتنو سره د Thimilar پر ضد اتحاد وکړ. لوړو او پیاوړو پښتنو سوداګرو د Mukkurvars سره مرسته وکړه او Thimilar د برید مخه یې ونیوله. په Batticaloa کې د ډېرو سیمو نومونه له دغو جګړو اخیستل شوي دي. د یوې سیمې نوم Sathurukondan دی چې مانا یې (چېرته چې دښمن وژل شوی وي) ده. د دغې سیمې اشاره د Thimilar د قبیلې مشر ته ده چې دلته وژل شوی و. دغو پښتنو ته د ډالۍ په توګه له ځایي ښځو سره د واده اجازه ورکړل شوه چې بیا په هغې قبیلې کې منحل (ګډ شول) شول چې پښتنو بیا خپل مشخصات او کلتوري شناخت وبایله.

د برېټانوي حکمرانۍ لاندې

د پښتنو کډوالو اکثریت یې بې سواده او نېستمن وو. په سریلانکا کې د کډوالۍ په لومړیو کلونو کې په کارګرۍ ګومارل شوي وو او یا به یې په کلیو کې سوداګري کوله. زما (لیکوال) د مورنۍ نیا له قوله چې ځینو پښتنو به د اېچ ابم موساجي سره کار کوه. د ډبلیو اېس موري د یوه رپوټ له مخې، پښتانه اصلا سریلانکا ته د افغانستان له بېلابېلو سیمو څخه د اس ساتونکو په توګه راغلي وو. د اس ساتنې تر څنګ، پښتنو به په کروندو کې هم کار کاوه. ځینو یې په کوچنیو ښارونو او کلیو کې په کوچنیو پلورنځیو او د ترکاریو په پلورنځیو کې هم کار کاوه. دغه راز، ځینو به په کورونو کې د نوکرانو او خدمت کوونکو په توګه هم دندې کولې. ځینو به د ګارډ (ساتونکي) په توګه هم دندې کولې او د سریلانکا په پوسته خانه کې یې هم کار کوه. په سریلانکا کې مېشتو پښتنو سړیو له ځایي ښځو سره ودونه وکړل چې زیاتره یې د Moor او Malay مسلماني ټولنې څخه وې.

پور ورکوونکي پښتانه

پښتنو د خپل وضعیت د ښه والي لپاره د پور ورکول پیل کړل. د پښتنو لوی اکثریت د پور د ورکړې د یوه منظم سیستم له امله ښه (نېکمرغه) شول. د ۱۹۳۰ ز کال کلونو په اوږدو کې تقریباً ټول پښتانه پور (کرېډېټ) ورکوونکي وو. پښتنو په ډېرې ګټې سره پور ورکوه. د سریلانکا خلکو به هم له پښتنو څخه پیسې اخیستې او هغو کسانو چې به ترې پیسې اخیستې وې، نو بېرته سپارل به ورته ستونزمن و. پښتانه سود (ګټې) اخیستونکې به د Slave Island او کلا په کوځو کې لیدل کېدل. زما (لیکوال) د نیا په حواله، پښتنو ګټې اخیستونکو به دغلته دغرمې خوب هم کوه او له خپلو پوروړو څخه به یې د خپلو پیسو اخیستو له پاره انتظار کوه. Menon لیکي چې د ربړ ګاډي اکثره سټاف د پښتنو پوروړي وو او کله چې به یې پښتانه ولیدل نو د ټېکټ په پیسو به یې سترګې پټولې. دغه پښتانه پور ورکوونکي د ظالمانه چلند په اړه مشهور وو. داسې مثالونه شته چې پښتنو په زور د خپلو پوروړو کورونه نیولي او په کالونو په کې له کرایې پرته اوسېدلي دي. Pippet په خپل کتاب کې د دغو پېښو په اړه غږېدلی دی. یو ځای کې لیکي چې یو افغان په یو بنګالي پولیس باندې خونړی برید وکړ، خو افسر مارشال په موقع راورسېد. پولیس یې روغتون ته ولېږه او افغان یې ونیوه.

کلتوري شناخت

سریلانکایي پښتانه د خپل پښتنې ظاهري شکل په اړه مشهور وو چې پکې پیراهن/خت او پرتوګ شامل وو. پښتنو به پوځیانو ته ورته بوټان په پښو کول او لونګۍ/دستار به یې په سر کاوه. پښتنو به تل له ځان سره اوږدې لښتې هم ګرځولې. دغه لښتې به یې د خپلو پوروړو لپاره ګرځولې.

که څه هم پښتنو به خپل منځ کې په پښتو خبرې کولې، خو په سنهالي، تامل او سریلانکایي مالايي به یې هم خبرې کولی شوې. د یادولو وړ ده چې په Slave Island کې د مالايي ویکانډا جومات مشر ملاتړی (ساتونکی) اصلن پښتون و. د ۱۹٦۰ ز کال کلونو پورې په Slave Island کې پښتانه اوسېدل. پښتنو په Parson کې یو کوچنی جومات هم درلود چې د جومې مانځه او حج له پاره به په کې راټولېدل. دغه راز، د پهلوانۍ او بزکشۍ له پاره به هم رایوځای کېدل. پښتنو به تل خپل مشران درلودل او خپلې ستونزې به یې د جرګې له لارې حل کولې. سره له دې چې سریلانکایي پښتانه له سترګو پناه شوي دي، خو بې له شکه یې زموږ په ټاپو نه هېرېدونکې نښې پرېښې دي.

یادونه: لیکوال (ضمیر کریم) د طب ډاکټر، مؤرخ او لیکوال دی چې د سریلانکا په ایتنیکي ډلویې لیکل کړي او د سریلانکا په مالايي خلکو یې دوه کتابونه هم لیکلي دي.

## گارډین: بې کیفیته مشروباتو د افغانانو روغتیا له ګواښ سره مخ کړې

گارډین ورځپاڼې په تازه راپور کې ویلي چې په افغانستان کې ورځ تر بلې ډېرېدونکو بې کیفیته انرژیو او مشروباتو د خلکو روغتیا ته جدي ګواښ پېښ کړی دی. د سرچینې په خبره، په دغه هېواد کې د ماشومانو، ځوانانو او امېندوارو ښځو له خوا د مصنوعي انرژیو ورځ تر بلې ډېرېدونکی مصرف به د یاد هېواد خلکو ته ناوړه پایلې ولري. سرچینې ویلي چې یاد مشروبات په خپل ترکیب کې د کافین او تیورین په نوم په زیاته پیمانه داسې مواد لري، چې روغتیا ته ډېر زیان رسوي. د ګارډین په خبره، په ډېریو هېوادونو کې د یادو مشروباتو پر مصرف بندیزونه لګېدلي، خو په افغانستان کې لاهم ورته په بېلابېلو بڼو پراخ تبلیغات روان دي، چې تر ډېره یې د خلکو پام ور اړولی دی.




په ورته وخت کې د روغتیا نړیوال سازمان هم خبرداری ورکوي چې که د دغه ډول مشروباتو مخه ونه نیول شي، ناوړه پایلې به ولري. د یاد سازمان په خبره، دغه ډول مشروبات انسانان، په ځانګړې توګه ځوانان له ډول ډول روغتیایي ستونزو سره مخ کوي.

بلخوا د عامې روغتیا وزارت د تغذیې د برخې عمومي مشره ډاکټر مرسل مناتي هم په بازارونو کې د دغه ډول بې کیفیته مشروباتو پر پلور اندېښنه څرګندوي. نوموړې له حکومته غواړي چې د دغو مشروباتو د مخنیوي لپاره دې ژر تر ژر لاس پر کار شي.

مناتي دغه راز وایي، چې یاد مشروبات انسان په سرطان، اظطراب، د خوب کموالي، چاغوالي، د معدې درد، د زړه او غاښونو پر ناروغیو اخته کوي.

## د بشنې نړیوال سازمان: افغان حکومت دې په ایران کې د افغان کډوالو د سوځولو په تړاو جدي پلټنې وکړي

د بشنې نړیوال سازمان له افغان حکومت غوښتي چې په ایران کې د افغان کډوالو د سوځولو په اړه جدي پلټنې وکړي. دغه سازمان ټینګار کوي چې په دې پېښه کې دې عدالت تامین شي.

په جنوبي اسیا کې د بشنې د نړیوال سازمان څېړونکی زمان سلطاني ویلي: «دا زړه بوږنوونکې او ټکان ورکوونکې پېښه باید په جدي او اغېزمنه او مستقیمه توګه دې وڅېړل شي او د دې پېښې قربانیان دې عدالت ته لاسرسی پیدا کړي.»

بلخوا د بهرنیو چارو وزارت د ایران د یزد ښار په حلقوي سړک کې د یوه موټر د اور اخیستو په پېښه کې د دریو افغان کډوالو له وژل کېدو او د څلورو نورو له ټپي کېدو وروسته ټینګار کوي چې دا موټر د ایراني پولیسو له لوري تر ډزو وروسته د سړک غاړې له موانعو سره لګېدلی او اور یې اخیستی دی.

په تهران کې د افغانستان سفیر د دې پېښې د څېړلو لپاره یزد ښار ته تللی دی. په تهران کې د افغانستان د سفارت د معلوماتو له مخې، په دغه موټر کې له لسو ډېر کسان سپاره وو چې درې تنه یې وژل شوي، پنځه تنه یې ټپیان شوي او درې تنه نور یې ژغورل شوي دي.

په تهران کې د افغانستان سفیر عبدالغفور لېوال ویلي: «د انسان د قاچاق دغه موټر چې زموږ هېوادوال یې لېږدول، د پولیسو له چارواکو سره مخامخ کېږي، دوی (پولیس) هغوی ته د درېدو لارښوونه کوي، خو دوی نه درېږي او وروسته چارواکو منلې چې ډزې شوې دي.»

لېوال وایي چې وژل شوي کسان به ډېر ژر افغانستان ته ولېږدول شي. په ورته مهال د ولسي جرګې ځینې غړي هم د دغې پېښې د جدي څېړنې غوښتنه کوي.

د دې جرګې غړی عبدالظاهر تمیم وایي: «دوی (افغان حکومت) مدیریت او وړتیا نه لري چې وکړای شي افغان وګړي په نورو هېوادونو کې په کوم وضعیت کې دي.»

بل خوا د ټولنیزو رسنیو ډېری کاروونکي د «لږ اوبه راکړئ، وسوځېدم» هشتګ په پیلولو سره د دې پېښې د قربانیانو لپاره د عدالت غوښتنه کوي.

بلخوا سیند ته د افغان کارګرانو په اچولو د ایران د سرحدي ځواکونو له تورنېدو د څه باندې یوې میاشتې له تېرېدو وروسته تر اوسه د دې پېښې د څېړلو څرنګوالی نه دی روښانه شوی.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily



وایګل چاپ

WAYGAL

PRINTING CO

WAYGAL Printing Co.

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!

STAY HOME
STAY SAFE

+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96

waygalprinting.co@gmail.com

waygalprinting.co

Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul



یکشنبه د ۱۳۹۹ د غبرګولي ۱۸مه | د ۲۰۲۰ د جون اوومه |۵۴۵مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۸ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ | ۳٥ | ۲۹ |
| ۱۳ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۶ | لمر ختل ۰٤:٤۰ | ماسپښین ۱۱:۵۳ | مازیګر ۰۳:٤۰ | ماښام ۰۷:۰۵ | ماخوستن ۰۸:۵۰

## نړۍ



د کرونا ویروس مرګوني څپه؛

# د دغې وبا له کبله په ټوله نړۍ کې د مړو شمېر له څلور سوو زرو واوښت

۲

## د امریکا په ګډون، په ګڼو هېوادونو کې د جورج فلوېډ د وژنې په غبرګون کې لاهم لاریونونه روان دي



د متحده ایالتونو په ګډون، د نړۍ په ګڼو هېوادونو کې د امریکا د پولیسو له خوا د تورپوستي د وژل کېدو پر ضد لاهم پراخ لاریونونه دوام لري. د راپورونو له مخې، له متحده ایالتونو څخه نیولې تر مکسیکو او هسپانیې پورې، زرګونه کسانو امریکایي جورج فلوېډ ته د درناوي په موخه خپلو لاریونونو ته دوام ورکړی دی. جورج فلوېډ د (مې په ۲۵) د امریکا په مینیسوټا ایالت کې د یوه سپین پوستي پولیس له خوا تر توقیف وروسته مړ شو. پولیسو د هغه پر ستوني پښنه ایښې وه چې د سا بندېدو له کبله مړ شو. د هغه مرګ په غبرګون کې په نړیواله کچه پرخ لاریونونه پیل شوي او په زرګونه کسان د نژادي تبعیض او تاوتریخوالي د پای ته رسولو غوښتنه کوي. په ورته وخت کې د استرالیا په لوی ښار سدني کې هم په لس ګونو زره کسانو جورج فلوېډ د وژل کېدو په غبرګون کې لاریون وکړ او د نوموړي د قاتلینو د محاکمې غوښتنه یې وکړه. که څه هم د استرالیا لومړي وزیر سکاټ مورسن له خلکو غوښتي وو چې د کرونا ویروس د خپرېدو له امله په مظاهرو کې برخه وانخلي، خو خلکو دي غوښتنې ته پام ونه کړ او د امریکا له لاریونوالو سره یې همغږي ونښوده.
په مکسیکو ښار کې هم، په سلګونو کسانو جورج فلوېډ ته د درناوي مراسم جوړ کړل، د غونډو تنظیموونکو د نورو هغو تورپوستانو نومونه هم ولوستل چې د جورج فلوېډ په څېر په امریکا کې د پولیسو لخوا مړه شوي دي.

## ملګري ملتونه: ایران د غني شویو یوارنیمو کچه اته برابره ډېره کړې ده

د ملګرو ملتونو د اټومي انرژۍ د څار اداري (IAEA) ویلي، ایران د غني شویو یورانیمو د زېرمو زیاتولو ته تر هغې کچې چې په ۲۰۱۵ ز کال کې ورته ټاکل شوې وه، په زیات توپیر دوام ورکوي.
دې ادارې په خپل نوي راپور کې ویلي چې د مې میاشتې له ۲۰مې راهیسې په ټیټه کچه د ایران د غني شویو یورانیمو کچه ۱،۵۷۱ اعشاریه ٦ کیلوګرامو ته رسېږې چې د ۲۰۱۵ ز کال په اټومي تړون کې له ټاکلې اندازې څخه اته ځلې زیاته ده.
په دغه تړون کې ایران منلې وه چې د نړیوالو بندیزونو د نرمولو په بدل کې به خپل اټومي فعالیتونه محدودوي، خو امریکا په ۲۰۱۸ ز کال کې له دې موافقې ووتله او پر یاد هېواد یې بیا بندیزونه ولګول.
د اټومي انرژۍ نړیوالې ادارې په یوه جلا راپور کې له دې کبله چې تهران خپلو دوو اټومي تاسیساتو ته د نړیوالو څېړونکو ورتګ ته اجازه نه ده ورکړې، اندېښنه ښودلې ده.
دا هغه ساحې دي چې د اټومي انرژۍ نړیواله اداره وایي، ایران ښایي هلته هغه اټومي مواد زېرمه کړي وي چې نړیوالو څارونکو ته یې اعلان کړي نه دي، خو تهران په دې اړه تر اوسه څه نه دي ویلي.


## انوري: در تلاش هماهنگی زمان و مکان مذاکرات استیم



وزارت دولت در امور صلح، می‌گوید که حکومت در تلاش هماهنگی زمان و مکان گفت‌وگوهای میان افغانان است تا به‌زودی این گفت‌وگوها با طالبان آغاز شوند. ناجیه انوری، سخن‌گوی این وزارت می‌گوید که کار دربارۀ چگونگی ساختار شورای عالی مصالحه نیز ادامه دارد و این شورا چارچوب گفت‌وگوهای صلح را با طالبان تعیین می‌کند. بانو انوری گفت: «این شورا متشکل از شخصیت‌های مطرح سیاسی و نماینده‌گان تأثیرگذار اقشار مختلف جامعه خواهد بود که در جریان روند صلح خطوط اساسی این روند را تعیین کرده و روی مسایل عمدۀ این روند نظارت می‌کند. دولت در تلاش ایجاد هماهنگی برای تدویر مذاکرات و هماهنگی مکانش می‌باشد تا در آیندۀ نزدیک مذاکرات مستقیم آغاز شود.»
هرچند عبدالله عبدالله، رئیس شورای عالی مصالحه ملی هفته پیش از آغاز کار این شورا خبر داد، اما تاکنون اعضای رهبری و مجمع عمومی شورای عالی مصالحه ملی که رهبری کننده روند صلح با طالبان خواهد بود معرفی نشده‌اند. حکومت افغانستان، ایجاد این شورا را گام مهم برای پیشبرد روند صلح با طالبان می‌داند اما روشن نبودن چگونگی ساختار این شوار با گذشت نزدیک به سه هفته از توافق سیاسی ارگ و سپیدار نگرانی‌های را به باور آورده است.
ظاهراً پیشرفت در آغاز گفت‌وگوهای میان افغانان نیز انتظار کارهای عملی شورای عالی مصالحه ملی را می کشد؛ زیرا یک عضو هیئت گفت‌وگوکنندۀ صلح می‌گوید که آنان آمادۀ آغاز گفت‌وگوهای میان افغانان با طالبان استند. غلام فاروق مجروح، عضو هیئت گفت‌وگو کنندۀ حکومت با طالبان در این باره گفت: «هیئت، تمام آماده‌گی‌ها را برای آغاز مذاکرات دارد. حال بر می‌گردد به جانب مقابل تا با بهره‌گیری از فرصت پیش آمده اعلام آماده‌گی بکنند.»


## ژوند

## د مسکا ګټې!



په خندا کې مهم او اړین درس نغښتی دی. خندا نه یوازې تاسو ته د خوښۍ احساس درکوي، بلکې ژور خپګان او نورې دې ته ورته ستونزې هم له منځه وړي. موږ له خپلو شوخو ملګرو سره په اړیکه کې کوو چې دغه کړنې په موږ کې د خوښ اوسېدو سبب ګرځي. لیدلي به مو وي، هغه کسان چې تل غوړې یوازې ژوند وکړي، له ملګرو سره راشه -درشه نه لري، ډېر یې له دې ډول ژور خپګان سره مخ وي. هڅه وکړئ چې د ځان په ګډون مو نور ملګري هم له دې ستونزې خلاص کړئ. خندا کولای شي زموږ د بدن دفاعي سیستم قوي کړي. د وینې فشار کموي، په وینه کې د اکسیجن د زیاتېدو سبب ګرځي، د بدن عضلې مو نرموي او د درد احساس له منځه وړي او په ټوله کې خندا موږ ته دا انرژي راکوي چې له دغو ټولو ښېګڼو سره سره به مو څېره هم ښکلې وي؛ ځکه تریو تندي لرونکي ښکلي کسان هم بدرنګه وي.

## دغه کړنې مو ښکلا ډېروي!



هېڅکله د مخ وچولو پر وخت خپل مخ کلک مه موښئ. هغه روی پاک چې یوازې په تاسو پورې اړه لري، را واخلئ، یوازې څو ځله یې ډېر نرم پر مخ کېږدئ او ببرته یې ترې پورته کړئ. مخ یوازې له مینځلو وروسته په سم ډول مرطوب مواد جزبولای شي او بس. د دې لپاره چې د بدن پوست مو ښکلی او شفاف شي، نو له ګرمۍ، یخنۍ او باد څخه ځان وژغورئ او همدارنګه پاکه او صافه وینه هم د ښکلي پوست لامل کېږي. څه ډول پاکه وینه درلودلی شی او کوم څه د دې لامل کېږي چې پاکه وینه ولرې؟ د دې لپاره چې وینه مو صافه او پاکه شي، په یوه کال کې باید ۳۰ ورځې روژه ونیسئ او د اوړي په موسم کې هرو مرو په خپل غذایي رژیم کې مېوه ور زیاته کړئ. د ښکلي پوست او پاکې وینې درلودو لپاره له انځرو، نخودو، خرما او شاتو څخه ګټه واخلئ. سالم خواړه او طبیعي مېوې هم د وینې د صافوالي لامل کېږي او په بدن کې خپرېږي؛ ځکه صافه وینه د صاف او شفاف پوستکي لامل کېږي.


ماستر ډېټ کارت

د عزیزي بانک ماسټر ډېټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.

- په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
- د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو ګټه اخیستلی شئ.

www.azizibank.af 1515

عزیزي بانک
Azizi Bank